مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۵/۰۶/۰۱۱

# سیاسي او تأریخي
# د افغانستان بایوګرافیکي
# قاموس
(۴۵ برخه)

## حمیدالله سراج

د عنایت الله سراج زوی. د ۱۹۱۷ز کال په فبرورۍ کې زېږېدلی دئ. له خپل پلار سره ئې په تهران کې ژوند کړی دئ. په ۱۹۴۷ز کال کې افغانستان ته راستون سو. په ۱۹۷۱ز کال کې د معارف وزیر وو.

## حمزالله خان

ملا، د بدر، بیزان خیل، درویش خیل وزیر [1]. د ‹مام شاه› [2] زوی. په ‹مین توی› [3] کې په ‹شاکي› [4] کې ئـې استوګنه کړې ده. د سوات د آخوند مرید. مرحوم ملا پوونده ته ئـې تدریس کړی دئ او له دهٔ سره ئـې اوږدهٔ دیني بحثونه کړي دي. دوی دواړه تر ډېر وخته پورې د یو بل رقیبان او دښمنان هم پاتې سوي دي. خو په ۱۹۰۷ز کال کې دواړو په عام محضر کې سوله وکړه. د وزیرو په منځ کې ئـې ډېر رسوخ او نفوذ درلود. د قره باغ د ملا دښمن هم وو. دهٔ به اکثراً له کابله لیدنه کوله او د ۱۹۰۸ز کال د جون په میاشت کې د اسلامي کانګرس په لړ کې د خپلو پیروانو له یوې لویې ډلې سره په کابل کې وو او د سردار عنایت الله په استوګنځي کې ئـې د جون تېره میاشت تېره کړله تر خو دا پرېکړه وکړي چې آیا د برتانویانو پر ضد د جهاد په هکله پرېـکړه وکړي که نه. د ۱۹۱۳ز کال د اپریل په میاشت کې ئـې د بریمل د کابل خیل وزیرو له منځه یو لښکر جوړ کړ او د ‹توچي اینجسي› [5] د ‹سپینه خیسور› [6] په پوستې باندې ئـې برید وکړ خو د شمالي وزیرستان د ملیشو په وسیلې په شا وتمبول سول. نوموړي هڅې وکړې چې د برتانیې د حکومت پر ضد د وزیرو او محسودو له منځه ګډ لښکر جوړ کړي.

## حسن حلمي بیګ

تورک، د امیر حبیب الله خان د سلطنت پر مهال د رنګ تولید کوونکی او په کابل کې د پُست یا ډاګ انځورګر.

---

[1] - Badr, Bizan Khel, Darwesh Khel Wazir
[2] - Mam Shah
[3] - Maintoi
[4] - Shakai
[5] - Tochi Agency
[6] - Spina Khaisora


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**حسن عیسی**

مصری دئ. په کابل کې د سراج الاخبار د ورځپاڼي حروف چین یا کمپوزیتر.

## میرزا محمد حسن خان

قزلباش. د مرحوم میرزا عسکر خان زوی. میر منشي او د امیر «دبیر». له امیر شیرعلیخان سره د کورنۍ جګړې په ټول پړاو کې مل او ملګری وو. ددهٔ پلار د امیر دوست محمد خان مشر منشي وو. په ۱۸۷۹ز کال کې ئې امبالې ته د امیر شیرعلیخان د سفر ملتیا وکړه او له راستنېدلو وروسته په کابل کې د نوې جوړې سوې شورى د غړي په توګه مقرر سو. د ۱۸۷۳ز کال د نوامبر په میاشت کې د «دبیر الملک» یا شخصي سکرتر په لقب د امیر د شورا د غړي په توګه مقرر سو.غلام احمد چې په ۱۸۷۴ز کال کې ئې له کابله لیدنه کړې ده لاندنۍ یادداشت ئې لیکلی دئ : «میر منشی میرزا محمد حسن خان د امیر شخصي او د حکومت سکرتر دئ. نوموړي د اعلیحضرت اعتماد ترلاسه کړی او د دربار د نورو غړو په پرتلې تر ډېره او اکثراً د دولتي چارو په شورا ګانو کې منل سوی دئ. دی د امیر له اهدافو سره په توافق عمل کوي او له هیڅ ډلې سره ځان نهٔ نښلوي.د امیر له پلوه ټول مراسلات او مکاتیب دی لیکي یا ددهٔ تر نظارت لیکل کېږي او دی په افغانستان کې د ډاګ/ پُست د ډیپارټمنټ رئیس دئ.» د نائب محمد علم له مړیني وروسته دی د والي شیردلخان تر لاس لاندې د افغان تورکستان نائب الحکومة یا د والي د مرستیال په توګه مقرر سو. د امیر په دربار کې ددهٔ ځای د محمد نبي په نوم بل قزلباش ډک کړ. ددهٔ زوی د امیر د مهر د مسؤول په توګه پاتې سو. ویل کېږي چې نوموړی په استثنایي او غیر عادي ډول هوښیار او د ډېر ښه چارچلند خاوند وو. په ۱۸۸۰ز کال کې زوی ئې دبیر الملک وو.

## محمد حسن خان

ابوبکر خیل غلزی. د سربلند خان زوی. سربلند خان په ۱۹۱۴ز کال کې د چاریکارو حاکم وو.

## محمد حسن خان

د نوروز خان زوی. د لالپوري خان او د اکبر خان ورور. په ۱۹۱۰ز کال کې د میدان، کابل حاکم او لا تر ۱۹۱۹ز کال پورې په همدې مقام پاتې وو.

## سردار محمد حسن خان

سردار، د کندهاري خوشدل خان زوی. د غزني والي. حسن خان ورور ئې روشندل په ۱۸۸۲ز کال کې په ګډه د غزني مرستیال والیان او ورسره د امیر دوه زامن په ګډه د غزني والیان مقرر سول. داسې ښکاري چې دا ډول تقرري ناکامه ختلې وي او پایله دا کېږي چې یوازې حسن خان د والي په توګه پاتې سي. د ۱۸۸۶ز کال د جولای د میاشتې په ۱۶ نېټې امیر عبدالرحمن خان په دربار کې وویل : «په تیرو شپږو کلونو کې سردار محمد حسن خان د غزني والي وو. هغهٔ نهٔ ما ته کوم تاوان رسولی دئ او خلکو ورځخه کوم شکایت کړی دئ. زما مخبرانو د هغهٔ پر ضد هېڅ نهٔ دي لیکلي. څومیاشتې مخکې ما ددهٔ ورور محمد عمر خان د زرمت د والي په توګه مقرر کړ. ما د هغهٔ پر ضد کوم شی نهٔ دي اورېدلي.» د غزني د ۱۸۸۶ او ۱۸۸۷ز کلونو د بغاوت په ترڅ کې دهٔ ته زښته ډېره مهمه دنده وسپارل سوه او دی مجبور وو چې د دښمن پر ضد مارش وکړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## سردار محمد حسن خان

سردار، د محمد قلي خان زوی د پاینده خان لمسی. امیر شیرعلیخان دی له یعقوب خان سره یو ځای زنداني کړ ځکه دی د یعقوب خان له سر او ځانه تیر پلوی وو. د امیر شیر علیخان له مړیني سره سم دی د جلال آباد د والي په توګه مقرر سو او ۱۸۸۰ز کال د جنوری په میاشت کي وتښتېد. د چارآسیاب په دوهمه جګړه کي ئې د برتانویانو پر ضد جګړه وکړه او د ۱۸۸۰- ۱۸۸۱ز کال په ژمي کي له سردار ایوب خان سره یو ځای سو. د ۱۸۸۱ز کال په سپتمبر کي د کندهار له دوهمي جګړې وروسته پرسیا ته وتښتېد. د ۱۸۸۲ز کال د اکتوبر په میاشت کي د کراچی، نوشهرې او دو آبې له لارې د فقیر په جامې کي په پټه راستون سو او د کونړ له بادشاه سید محمود سره یو ځای سو، دا مهال سید محمود د امیر عبدالرحمن خان مخالف وو. د ۱۸۸۳ز کال په پیل کي دهٔ د شینواریانو له منځه لښکر جوړ کړ خو کله چي د امیر د سرتیرو له لاسه ئې ماته وخوړله د «سپري» [7] له ملا ولیخان سره یو ځای ئې تیرا ته پناه یوړه. د ۱۸۸۳ز کال د نوامبر په میاشت کي دی د منګلو په سیمه کي وو د سادو خان تر مشری لاندې له یاغیانو سره یو ځای سو، سادو خان په قوم ګروخیل[8] غلزی وو. د ۱۸۸۴ز کال د اپریل په میاشت کي د منګلو له ماتي وروسته دئ یو ځل بیا بېرته تیرا ته وتښتېد.

## سردار محمد حسن خان

سردار، محمدزی، بریګیډیر(غُنډ مشر). د پاینده خان د زوی نواب صمد خان لمسی (؟). دئ یو ځل په جلال آباد کي «مهاندار باشي» وو. په ۱۹۰۴ز کال کي ئې کابل ته د «ډِن د مأموریت» [9] ملتیا وکړه. د ۱۹۰۷ز کال راپور وایی چي د اندارب د ولسوالی په بنو کي د سرتیرو بولندوی دئ. د ۱۹۰۸ز کال راپور وایي چي غوښتل ئې د غازیانو له برتانوي ضد اله ګولي سره یو ځای سي خو امیر حبیب الله له دې کار څخه منصرف کړ.

## محمد هاشم خان

هراتی، په هرات کي د خوانینو یو له سپرو څخه، د ۱۹۱۹ز کال د فبروری د میاشتي د پای په شاو خوا کي د اوبې د حاکم په توګه مقرر سو.

## محمد هاشم خان

په ۱۹۱۶ز کال کي د برمل حاکم وو. د ۱۹۱۶ز کال کي د راپور له مخي دی بېرته راوغوښتل سو او په ۱۹۱۶ز کال کي د ارګون حاکم مقرر سو او په ۱۹۱۷ز کال کي له ناظم دوست محمد سره خوست ته ستون سو. په ۱۹۱۷ز کال کي ګردیز ته د ګردیز د حاکم په توګه تبدیل سو.

## محمد هاشم خان

د سردار یوسف خان زوی او د پخواني پادشاه اعلیحضرت ظاهر شاه اکا وو. دی د اعلیحضرت نادر شاه ناسکه ورور وو. په ۱۸۸۶ز کال کي زېږېدلی دئ. په کابل کي د «سر اوس» [10] یا باډیګارډانو بولندوی وو او په ۱۹۰۷ز کال کي هندوستان ته د امیر حبیب الله د سفر مل او ملګری وو. د هرات د نائب سالار په توګه مقرر او په ۱۹۱۶ز کال کي له

---

[7] - Sapri

[8] -Garu Khel Ghilzai

[9] - Dane Mission

[10] - Sar-Os



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

کابله لاړ. د ۱۹۱۹ز کال د ډسمبر په میاشت کې د جلال آباد د والي په توګه مقرر سو. په ۱۹۲۰ز کال کې د مشرقي د ولایت والي مقرر سو. د ۱۹۲۲ز کال د جنورۍ په میاشت کې چې جنرال نادر خان په سفر تللی وو دی د جنګ د وزیر د سرپرست په توګه مقرر سو. په ۱۹۲۳ز کال کې له پلار سره اروپا ته لاړ.د ۱۹۲۴ز کال د مارچ په میاشت کې په مسکو کې وزیر مختار مقرر سو او د ۱۹۲۶ز کال د جولای د میاشتي په دریمي نېټي له مسکو څخه ووت او په «ګریس» [11]کې له خپل ورور نادر خان سره یو ځای سو. د ۱۹۲۹ز کال کې د جنورۍ په میاشت کې ئې افغانستان ته د راتګ تکل وکړ او د ۱۹۲۹ز کال د فبرورۍ د میاشتي په اتمي نېټي له نادر خان او شاه ولي سره له «مارسیلس» [12] ووت. د ۱۹۲۹ز کال د نوامبر د میاشتي په ۹ نېټي کابل ته راغی او په همدې نېټي صدراعظم او د کورنیو چارو وزیر مقرر سو. کله چې نادر خان په قتل ورسېد دئ د افغانستان د شمال د ولایاتو په سفر بوخت وو او د خبر په اورېدلو په بېړه کابل ته راستون سو. د۱۹۳۶ز کال د اکتوبر په میاشت کې د یوۀ طبي عملیات لپاره برلین ته راغی. له ۱۹۲۹ تر ۱۹۴۶ز کال پورې صدر اعظم وو. د دوهمي نړۍ والي جګړې په ترڅ کې ئې د افغانستان بې طرفي وساتله. د یوۀ ښه اداره چي په توګه ئې شهرت درلود خو له خلکو سره په چار چلند کې سختګیر، ټینګ او شدید وو. د ۱۹۵۳ز کال د اکتوبر د میاشتي په ۲۶ نېټي وفات سو.

## حیات الله خان

سردار، محمد زی. د ۱۸۸۸ز کال د دسمبر په ۲۹ نېټي زېږېدلی دئ. د امیر حبیب الله خان دوهم زوی. مور ئې د چترال د میر محمد اوجهور[13] یوه خور وه. په ۱۹۰۵ز کال کې د قطغن د والي په توګه مقرر سو. کله چې امیر حبیب الله خان په ۱۹۰۷ز کال کې د هندوستان له سفر څخه راستون سو، امیر حبیب الله خان دی کابل ته راوغوښت ترڅو هغو الزاماتو ته ځواب ووایي چې د قطغن خلکو دده پر ضد کړي ول. دی تر یوې مودې په کابل کې د آزادۍ په محدودیت وساتل سو. د ۱۹۱۱- ۱۹۱۲، د ۱۹۱۲- ۱۹۱۳ او د ۱۹۱۳- ۱۹۱۴ز کلونو په ژمیو کې کله چې دبار د لنډ مهال یا مؤقت وخت لپاره جلال آباد ته لاړ نو دی به په کابل کې د کابل د والي په توګه پرېښودل کېدۀ او ویل کېږي چې خپلې دندې ئې د امیر د قناعت تر کچې په ښه توګه سرته رسولې. په ۱۹۱۵ز کال کې دده کلنی مستمري ثابت دیرش زره روپۍ وې. د ۱۹۱۷ز کال د اپریل په شاوخواوو کې دۀ ته د عضدالدوله (دولت مټ، بازو یا یاور- ژ) لقب ورکړل سو. د ۱۹۱۹ز کال د فبرورۍ د میاشتي په ۱۷ نېټي یعنی د امیر حبیب الله خان له قتل څخه درې ورځې مخکې دی له کابله د جلال آباد پر لور وخوځېد. داسي ښکاري چې د قتل د خبر په اورېدلو سره دی بېرته کابل ته ستون سوی دئ او له سردار امان الله خان پاتي سوی دئ. د ۱۹۲۳ز کال د اپریل په میاشت کې له خپلې مېرمني سره اروپا ته لاړ او د ۱۹۲۴ز کال د مارچ په میاشت کې بېرته کابل ته راستون سو. په ۱۹۲۵ز کال کې د عدلیې د وزیر په توګه مقرر سو. سره له دې چې ورور ئې پادشاه او دی په خپله وزیر وو په ټولنیز ژوند کې ئې کومه فعاله ونده نۀ ده اخیستې. راپورونه وایي چې د ۱۹۲۹ز کال د جنورۍ په میاشت کې حبیب الله د سقاو زوی ته تسلیم سوی وو خو وروسته ونیول سو. د ۱۹۲۹ز کال د اکتوبر د میاشتي په ۱۷ نېټه د سقاو د زوی د فرمان پر بنسټ اعدام سو. زامن ئې : محبوب الله عضد سراج [14]، د هوایي

11 - Grasse
12 - Marseilles
13 -Mu Muhammad Ojhor in Chitral
14 -Mahbubullah Azud Siraj

ملکي رئيس، برهان الله د امريکا د متحده ايالاتو په کاليفورنيا کې ژوند کوي او قدرت الله حضرت سراج د انحصاراتو په رياست کې.

## نور بيا

### حضرت شوربازار

دا نوم د سرهند هغو تيولوژيستانو ته ورکړل سوی دئ چي...

## قدرمنو لوستونکو! د ښاغلی رحمت آريا د آرشيف: لينک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ